DEPARTMENT OF HEALTH

CENTER OF EXCELLENCE IN NEWCOMER HEALTH MINNESOTA

# د والدینو او سرپرستانو لپاره د ماشومانو پرمختیایي ارزونې لنډه پیژندنه

په متحده ایالاتو کې د روغتیایي پاملرنې کارکوونکي د ماشومانو د منظمې برنامه شوي کلینیکي لیدنو په اړه د هغوی د بدن او ذهن د ودې او پراختیا نظارت کوي. د جسمي معاینې ترڅنګ، د روغتیایي پاملرنې کارکوونکي (چې کیدی شي یو نرس، معاون ډاکټر، یا متخصص نرس وي) به تاسو څخه د ستاسو د ماشوم د عمر پراساس د هغوي د خبرو کولو، لوبو کولو، او زده کړې په اړه ځانګړي پوښتنې وکړي.

ستاسو ماشومانو ذهن او بدن د زیږون نه مخکې هم په چټکۍ سره وده کوي. تاسو دا هغه وخت کې لیدلئ شی چې دوی لومړی ځل لپاره خندا وکړي، یو نوی کلمه ووایي، یا دوی لومړی ځل لپاره ګامونه واخلي. ستاسو روغتیایی پاملرنې کارکوونکي به له تاسو څخه د یوې پوښتنتو تولګې د بشپړولو غوښتنه وکړي چې **د ځوانو ماشومانو د ښه والي د سروې(SWYC)** په نوم  یادیږي. کله چې تاسو سروې بشپړه کړئ، ستاسو روغتیایي پاملرنې کارکوونکی به دا سروې له تاسو سره یوځای وڅیړي. ستاسو له خوا ورکړل شوي ځوابونه د روغتیایي پاملرنې کارکوونکي سره مرسته کوي ترڅو دوی ستاسو د ماشوم په اړه معلومات ترلاسه کړي او که اړتیا وي، تاسو د مختلفو سرچینو سره وصل کړي ترڅو ستاسو ماشوم د ښوونځي لپاره چمتو شي.



## د ماشومانو د پرمختیایي ارزونه څه شی دی؟

- دا یوه فرصت دی چې د ستاسو ماشوم د پرمختګ ملاتړ کوي (لوبې کول، زده کړه، خبرې کول، چلند او حرکت کول).
- دا د څېړنې پر بنسټ د ماشومانو په اړه د پوښتنو یو لست دی چې تاسو یې ځواب ورکوئ څکه چې تاسو د خپلو ماشومانو په اړه تر بل هر چا ښه پوهیږئ.
- دا ارزونه ستاسو د ماشوم ټاکل شوي کلینیک لیدنو کې د زیږون څخه تر ۵ کلنۍ عمر پورې ترسره کیږي .
- که څه هم هر ماشوم په خپل سرعت سره وده کوي، خو ډیری ماشومان د ورته لاره په واسطه رشد کوي.

## د ځوانو ماشومانو د ښه والي د سروې (SWYC) په اړه د یاد ساتلو وړ مهم ټکی:

- په دې سروې کې د ماشومانو د ناروغیو تشخیص شامل نه دی.
- ستاسو ځوابونه او د ارزونې نتیجه به د ماشوم د روغتیا تاریخچې برخه وي، او ستاسو له اجازې پرته به له هیچا سره نه شریک کیږي.

## د روغتیایی پاملرنې کارکوونکي سره د نتایجو په اړه د بحث وروسته:

- که د ارزونې نتیجې په اړه اندیښنه شتون ولري، ستاسو ماشوم ممکن ښوونځي یا نورو ډاکټرانو ته ارزونې لپاره واستول شي.
- که د ماشوم د ودې او پرمختګ په اړه کومه اندیښنه نه وي، تاسو به د هغه څه په اړه معلومات ترلاسه کړئ چې څنګه د ماشومانو سره د لوبو کولو له لارې د دوی وده کې مرسته کیږي.

MNCOENewcomerHealth@state.mn.us
www.health.state.mn.us/refugee

3/14/25 (Pashto)
*To obtain this information in a different format, call: 651-201-5414*